د افغانستان اسلامي امارت

د اقتصادي چارو کمېسیون

د افغانستان اسلامي امارت

د اقتصادي چارو کمېسیون

(۸) مه مصوبه

د ۱۴۴۴هـ.ق کال د شعبان المعظم ۲۱مه

د ۱۴۰۱هـ.ش کال د کب ۲۳مه

د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۴ هـ.ق کال اتمه غونډه، سه شنبه د شعبان المعظم ۲۱مه (د ۱۴۰۱ هـ.ش کال د کب ۲۳ مه) له غرمې مخکې پر(۱۰:۰۰) بجو په مرمرینه ماڼۍ کې د عظیم‌الشان قرآن د مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه. غونډې د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال او اقتصادي کمېسیون رئیس محترم الحاج ملا عبدالغني برادر آخند په مشرۍ دوام وکړ.

په غونډه کې له هر اړخیزو بحثونو وروسته، لاندې پرېکړې وشوې:

**لومړی موضوع:** د ټرانسپورټي طرحو په اړه لاندې موضوعات اقتصادي کمېسیون ته د بحث لپاره راغلي و:

۱- کابینې بهر ته د ښۍ لاس موټرو د صادرولو په اړه د مالیې وزارت وړاندیز اقتصادي کمېسیون ته راجع کړی او غوښتنه یې کړې چې کمېسیون دې دغه موضوع بررسي کړي او د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت لخوا جوړ شوي طرزالعمل سره له مقایسې وروسته دې ورته حل لاره پیدا کړي او بیرته دې د منظورۍ لپاره د کابینې جلسې ته وړاندې کړي.

۲- د بې اسنادو موټرو د ګمرکي محصول په کرنلاره کې له یوې میاشتې څخه شپږو میاشتو ته د مودې د غځولو په اړه د مالیې وزارت او د اقتصادي معاونیت په مشرۍ د ټاکل شوي پلاوي وړاندیز.

۳- د ا.ا.ا د کابینې د ۱۴۴۴ هـ.ق کال د (۱۴) مې کښې مصوبې (۴) بند په لاندې ډول صراحت لري:

«د ا.ا.ا اقتصادي کمېسیون مؤظف دی چې د ټرانسپورټي طرحو د تطبیق او نظارت څرنګوالی و ارزوي او د تصمیم نیونې لپاره یې کابینې غونډې ته وړاندې کړي».

۴- د هلمند ولایت یو شمېر موټروانان او سوداګر شکایت کوي چې په یاد ولایت کې د ټرانسپورټ ریاست لخوا ترې د بار وړونکو د نوبت په نوم پیسې اخیستل کېږي چې په ټوله کې د موادو د بیې د لوړوالي لامل کېږي او پر سوداګرۍ منفي اغېز کوي.

۵- د کورنیو چارو وزارت د ځینو وسایطو لپاره د تیرو کلونو د ۵۰ او ۷۰ سلنه مالیاتي پورونو د معافیت په اړه د ریاست الوزراء عالي مقام ته وړاندیز کړی چې عالي مقام یې په اړه داسې هدایت کړی دی:

وکتل شو!

د اقتصادي چارو محترم کمېسیون ته!

یاده موضوع تاسو ته راجع شوه، د ۳۴ مې مصوبې پنځم بند سره سم د یادې موضوع په اړه خپل نظر راسره شریک کړئ.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۱ | -د اقتصاد وزارت په مشرۍ دې د ټرانسپورټي ستونزو د حل په موخه جوړه شوې کمېټه بهر ته د ښۍ لاس موټرو او اروندو پروزو صادرولو موضوع و څېړي او خپل ګزارش دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.<br>-د بې اسنادو موټرو د ګمرکي محصول پروسه، موده او اړونده چارې یې د شته کرنلارې پر اساس د ۱۴۰۲ هـ.ش کال تر آخره تمدید دې.<br>-د اقتصاد وزارت په مشرۍ دې له ټرانسپورټ او هوایي چلند، | د اقتصاد، مالیې، ټرانسپورټ او هوائي چلند، صنعت او سوداګرۍ وزارتونه، ټرانسپورټي او بارچالاني شرکتونه | عاجل |

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزرا اقتصادي معاونیت
Islamic Emirate of Afghanistan
Economic Commission Secretariat

| | | | |
|---|---|---|---|
| | مالیې، صنعت او سوداګرۍوزارتونو څخه د ترانسپورټي شرکتونو او موټردارانو په ګډون یوه مشترکه کمېټه جوړه شي او په هلمند او نورو ولایتونو کې د ترانسپورټي شرکتونو او موټردارانو سره په مشوره، د نوبت د جوړولو یا نه جوړولو موضوع وڅېړي او په هیواد کې د ترانسپورټي نظم د جوړولو په موخه، یاده موضوع حل کړي.<br>همدا شان، د اقتصاد وزارت په مشرۍ دې له مالیې، ترانسپورټ او هوايي چلند وزارتونو او اړوندو ښاروالیو څخه یو پلاوی جوړ شي او د تجارتي مالونو له واردونکو او ترانزیټي باروړونکو موټرو څخه په اړوندو ګمرکونو کې د ټاکل شویو محصولونو له اخیستلو څخه وروسته، له یادو موټرو څخه پر لارو د اضافي فیسونو د تر لاسه کولو موضوع وڅېړي او خپل ګزارش دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.<br>د کورنیو چارو وزارت لخوا د د ځینو وسایطو اړوند د ۵۰٪ او ۷۰٪ مالیاتو پورونو معافیت په اړه دې هم د اقتصاد وزارت په مشرۍ ټاکل شوې کمېټه د ا.ا.ا د کابینې د ۳۴ مې مصوبې د پنځم بند په پام کې نیولو سره لازمې کړنې ترسره کړي.<br>د اقتصاد وزارت لخوا وړاندې شوی راپور د بحث شویو تعدیلاتو سره تائید دی. | | |

**دویمه موضوع:** د کندهار ولایت د ملي سوداګرو د ستونزو د حل په اړه د ا.ا.ا د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله داسې حکم کړی دی:

وکتل شو؛

د اقتصادي چارو کمېسیون ته!

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته!

وبعد: د کندهار ولایت د علماوو شورې په (۱۳۵) ګڼه مکتوب سره دکندهار ولایت اطاق تجارت او نورو تجارانو مشکلات مونږ ته رالېږلي، تاسو د تجارانو دغه مشکلات واورئ او د حل لارې ورته ولټوئ، وروسته یې مونږ ته راولېږئ.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۲ | د افغانستان اسلامي امارت د عالیقدر مشرتابه د حکم په نظر کې نیولو سره، یاده موضوع دې د ا.ا اداري کمېسیون لخوا د ټاکل شوي پلاوي لخوا و څېړل شي او خپل رپوټ دې د عالیقدر مشرتابه دفتر ته وړاندې کړي. | د ا.ا.ا اداري کمېسیون | د اړتیا مطابق |

**درېیمه موضوع:** د کانونو او پټرولیم وزارت د هرات ولایت د غوریانو اوسپنې کان د څلورو بلاکونو د ارزونې راپور اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کوي.

همدا رنګه د کانونو او پټرولیم وزارت د غور ولایت د سربو او جستو د څلورو بلاکونو د ارزیابۍ راپور د ا.ا.ا د مشرتابه محترم مقام ته استولی او د نورو اجراآتو لپاره یې د عالي مقام هدایت غوښتی دی، عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله یې په اړه لاندې هدایت کړی دی:

"وکتل شو! د اسلامي امارت اقتصادي کمېسیون ته یې وړاندې کړئ، تر تصویب وروسته یې راولېږئ. والسلام"

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۳ | د کانونو او پټرولیم وزارت دې د هرات ولایت د غوریانو د وسپنې او د غور ولایت د تولک د سربو او جستو د داوطلبۍ اړوند مجموعي راپور او د تصمیم نیونې معیارونه د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت او د اقتصادي کمېسیون غړیو وزارتونو سره شریک کړي؛ د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت او د اقتصادي کمېسیون اړوند وزارتونه به د یادو کانونو اړوند اسناد و ارزونې او خپلې موندنې به د اقتصادي کمېسیون راتلونکې مجلس کې شریکې کړي او د موضوع اړوند به وروسته تصمیم نیول کېږي. | د کانونو او پټرولیم وزارت | عاجل |

**څلورمه موضوع:** د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۰۰/۱۰/۲۳ نېټې (۵) مې کڼې مصوبې دریم بند، چې په لاندې ډول صراحت لري: «وزارت های مخابرات و تکنالوژی معلوماتی و مالیه موظف اند روی چگونگی پرداخت و انتقال پول ۴جی ۵ میگاهرتز فریکونسی، به اقساط متعدد جلسه نموده، به توافق برسند و گزارش خویش را به مجلس بعدی کمیسیون اقتصادی ارائه بدارند.» اړوند د مالیې وزارت د خپلو کړنو ګزارش د نورو کړنو لپاره اقتصادي معاونیت ته رالېږلی دی.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۴ | د افغان ټیلیکام وضعیت ته په کتو په ۴۱ قسطونو کې ۴جي ۵ میګاهرتز د پیسو د انتقال په اړه د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ او مالیې وزارتونو نظر تائید دی. | د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ او مالیې وزارتونه، د افغان ټیلیکام مخابراتي شرکت | د اړتیا مطابق |

**پنځمه موضوع:** د افغانستان برېښنا شرکت د نوري فایبر لین په کرایه او اجاره ورکولو اقتصادي طرحه د چارو اداري لوی ریاست ته استولې وه چې د چارو اداري لوی ریاست اړوند د کابینې او شوراګانو چارو د انسجام ریاست لخوا مطالعه شوې او له غورچاڼ سره یې یاده طرحه په اقتصادي کمېسیون کې د بحث لپاره رالېږلې ده.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۵ | د افغانستان برېښنا شرکت لخوا د نوري فایبر لین په کرایه او اجاره ورکولو د اقتصادي طرحې موضوع په اړه، د تخنیکي کمېټې دا نظر چې «د اقتصاد وزارت په مشرۍ د افغانستان برېښنا شرکت، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت او افغان ټیلي کام شرکت استازي دې مکلف کړای شي چې د نوري فایبر موضوع وڅېړي، یوې موافقې ته دې ورسېږي او هغه موافقه دې د تایید لپاره د ا.ا.ا د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت ته وړاندې کړي.» تائید دی. | د اقتصاد، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارتونه، د افغانستان برېښنا شرکت، د افغان ټیلیکام مخابراتي شرکت | دوه اونۍ |

د افغانستان اسلامي امارت
Islamic Emirate of Afghanistan
Economic Commission Secretariat

**شپږمه موضوع:** د نوي افغان پټرولیم شرکت د تېلو د تفکیک په اړه د ټاکل شوي کمېټې نظر د یو یادښت په ترځ کې د ریاست الوزراء عالي مقام ته وړاندې شوی او په اړه یې داسې فرمایلي دي:

وکتل شو:

د ټاکل شوي هیئت گزارش اقتصادي کمېسیون ته راجع شو ترڅو له یاد گزارش سره په همغږۍ د وروستۍ پرېکړې په موخه خپل نظر راسره شریک کړئ غالباً نوی افغان پټرولیم اقتصادي کمېسیون ته هم عریضه ورکړې. بل لوري ته د دوی بلې عریضې ته رسیدګي په موخه باصلاحیت هیئت ټاکل شوی چې گزارش یې ضمیمه دی.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۶ | په هرات ولایت کې د ذخیره شویو تیلو په اړه چې د نوي افغان پټرولیم په نامه یو افغاني شرکت یې د مالکیت ادعا لري، د نوموړي شرکت لخوا وړاندې شوي اسناد د اقتصادي کمېسیون د قناعت وړ و نه ګرځېدل؛ که د یادې موضوع اړوند د نوموړي شرکت سره داسې نور اسناد شتون ولري چې د یادو تیلو مالکیت د دوی حق ثابت کړي، نو د اقتصادي معاونیت د پلان، پالیسۍ او حقوقي چارو ریاست سره دې د دوه اونیو په موده کې شریک کړي. د پورته چارې تر ترسره کېدو وروسته به اقتصادي کمېسیون د موضوع اړوند تصمیم نیسي. | د ا.ا.ا د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت | دوه اونۍ |

**اوومه موضوع:** د ا.ا.ا کابینې د نړیوالو تفاهم لیکونو پر بنسټ د یو شمېر شرکتونو د مالیاتي معافیت په داسې پرېکړه کړې ده:

«اقتصادي کمېسیون مؤظف دی چې د یو شمېر شرکتونو د مالیاتي معافیت موضوع چې د نړیوالو تفاهم لیکونو پر بنسټ د پخوانۍ ادارې لخوا ورکړل شوي وه، د مالیې وزارت د اړوندو فني مسؤولینو په همکارۍ وارزوي او نتیجه یې د تصمیم نیونې لپاره د کابینې جلسې ته وړاندې کړي»

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۷ | د نړیوالو تفاهم لیکونو پر بنسټ د پخوانۍ ادارې لخوا ځینو شرکتونو ته د ورکړل شویو مالیاتي معافیتونو په اړه د تخنیکي کمېټې دا نظر چې<br>«- له غیر انتفاعي بنسټونو او شرکتونو سره کومه ستونزه نشته او له هغوی سره دې د پخوا په څېر چلند وشي.<br>- له انتفاعي بنسټونو او شرکتونو سره:<br>الف: له هغو شرکتونو سره چې د پخوانیو تړونونو په رڼا کې یې د پروژو قرارداد لاسلیک کړی دی او د اسلامي امارت له فتحې وروسته یې کار درولی دی؛ خو مالیاتي تصفیه یې لا پاتې ده، له هغوی سره دې د همغه پخواني لاسلیک شوي تعامل له مخې چلند وشي.<br>ب: له هغو شرکتونو سره چې د پخوانیو تړونونو په رڼا کې یې د پروژو د تطبیق قرارداد لاسلیک کړی دی او اوس هم کار ته دوام | د مالیې، اقتصاد، صنعت او سوداګرۍ او بهرنیو چارو وزارتونه | اوږد مهال |

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزرا اقتصادي معاونیت
د اقتصادي کمېسیون دارالانشاء
Economic Commission Secretariat
Islamic Emirate of Afghanistan

| | | | |
|---|---|---|---|
| | ورکوي، له دوی سره دې هم د پخواني لاسلیک شوي تعامل له مخې چلند وشي.<br>ج. هغه شرکتونه او بنسټونه چې اوس غواړي نوی قرارداد وکړي، د اسلامي امارت ذیصلاح مراجع دې د افغانستان د ملي ګټو په پام کې نیولو سره د دغو نویو قراردادونو په اړه د نوي تعامل له مخې تصمیم ونیسي.» تائید دی. | | |

**اتمه موضوع:** د کابل ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې د نوي کابل ښار د جوړولو پروسې د اسانه کولو او چټکتیا په اړه د ښار او کور جوړولو وزارت د ریاست الوزراء عالي مقام ته په یاده سیمه کې د ځمکو د پېر او پلور اړوند وړاندیز کړی دی. په دې اړه د ۱.۱.۱ د ریاست الوزراء د عالي مقام هدایت داسې دی: اقتصادي کمېسیون دې د یادې موضوع په اړه خپل نظر راسره شریک کړي.

| # | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۸ | د کابل ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې د نوي کابل ښار جوړولو پروسې اړوند د چارو اسانه کولو او چټکتیا په موخه، د ښار او کور جوړولو وزارت لخوا شوی وړاندیز تائید دی.<br>د ښار او کور جوړولو وزارت دې د نوي کابل ښار د ځمکو د تصفیې اړوند اسناد او خپل نهایي تصمیمونه د منظورۍ په موخه په مقطعي ډول اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي. | د ښار او کور جوړولو وزارت | اورد مهال |

**نهمه موضوع:** د مالیې وزارت د ۴۹ ګڼه وړاندیز لیک چې د غلام خان بندر لپاره د ۱۶۸ جریبه ځمکې، د تورخم بندر لپاره د ۵۴۰ جریبه ځمکې او د وېش ګمرک لپاره د ۱۰۰۰ جریبه ځمکې غوښتنه کړې ده. د ریاست الوزراء عالي مقام یې د وړاندیز په اړه داسې هدایت کړی دی:مم

وکتل شو؛

د اقتصادي چارو محترم کمېسیون ته!

یاده موضوع تاسو ته راجع شوه. موضوع په دقت سره وڅېړئ، حل لاره ورته را وباسئ، د تائید لپاره یې راسره شریکه کړئ.

| # | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۹ | د خوست ولایت د غلام خان په بندر کې د ۱۶۸ جریبه ځمکې د ستونزې په اړه دې د مالیې او کورنیو چارو وزارتونه په ګډه کار وکړي.<br>د ننګرهار ولایت په تورخم بندر کې ۵۴۰ جریبه ځمکې د ستونزې په اړه چې مخکې مالیې وزارت ته توزیع شوې ده، د مالیې، کرنې اوبولګولو او مالدارۍ وزارتونه او د تورخم ښاروالي دې په ګډه کار وکړي او یادې ستونزې ته یوه حل لار پیدا او د خپلو کړنو پایله اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.<br>د مالیې وزارت او د کندهار ولایت مقام دې د یاد ولایت د ګمرک اړوند ستونزه وڅېړي او خپلې موندنې دې د اقتصادي کمېسیون سره شریکې کړي. | د مالیې، کورنیو چارو او کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارتونه، د کندهار ولایت مقام، د تورخم ښاروالي | یوه میاشت |

دافغانستان اسلامي امارت
Economic Commission Secretariat

**لسمه موضوع:** د مشارکت پر اساس د ملکي او نظامي دولتي کارکوونکو، مجاهدینو د شهیدانو وارثانو، معلولینو او عامو خلکو او د ارزاقو شرکت تر منځ د پانګونې طرحه.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۱۰ | د مالیې وزارت دې د اقتصادي معاونیت د استازي په ګډون پر یاده موضوع لا ډېر کار وکړي او د خپلو کړنو پایله د اقتصادي کمېسیون سره شریکه کړي. | اقتصادي معاونیت، د مالیې وزارت | |

**یوولسمه موضوع:** د افغانستان برېښنا شرکت لخوا د وردکو په چک ولسوالۍ کې د برېښنا د تولید فابریکې د بیا رغونې لپاره د بودجې د منظورۍ وراندیز.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۱۱ | د وردکو ولایت د چک بند د جوړولو اړوند د تخنیکي کمېټې دا نظر چې « د اوبو او انرژۍ وزارت او د برېښنا شرکت دې له مالیې وزارت سره د چک بند د پاتې چارو د بشپړولو په اړه بحث وکړي. که دغه بند په بودجوي لومړیتوبونو کې شامل وي؛ نو له قراردادي شرکت سره دې قرارداد تمدید شي او که په بودجوي لومړیتوبونو کې شامل نه وي؛ نو بیا چې هر کله د مالیې وزارت د بودجې ریاست د دغه بند لپاره د بودجې ژمنه وکړي، بیا دې له قراردادي شرکت سره د چک بند د پاتې چارو د بشپړولو قرارداد تمدید شي.» تائید دی. | د اوبو او انرژۍ او د مالیې وزارتونه، د افغانستان برېښنا شرکت | درې اونۍ |

**دولسمه موضوع:** د کام ایر او آریانا افغان هوائي شرکتونو د مقروضیت موضوع:

۱. د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۰۱ هـ.ق کال په (۱۳) مصوبه کې د مالیې وزارت تر مشرۍ لاندې د ترانسپورت او هوائي چلند، صنعت او سوداګرۍ او اقتصاد وزارتونو او د اقتصادي معاونیت له استازي څخه جوړه کړه کمېټه مؤظفه شوه څو د کام ایر شرکت د پورونو موضوع وڅېړي او خپل راپور اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.

د پورته پرېکړې د تحقق په موخه د یادې کمېټې راپور او وړاندیزونه د مالیې وزارت لخوا د وروستي تصمیم لپاره اقتصادي کمېسیون ته رالېږل شوي دي.

۲. د مالیې وزارت د آریانا افغان هوائي شرکت د مقروضیت په اړه د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۰۱/۳/۲۶ نېټې (۱۲) مې ګڼې مصوبې د تعدیل غوښتنه کړې.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۱۲ | د افغانستان اسلامي امارت هغه اداري او ارګانونه چې له کام ایر شرکت څخه پورورې دي، د طلباتو او تضمیناتو د سند مطابق د نوموړي شرکت سره دې خپل پورونه تصفیه کړي.<br>کله چې د ترانسپورت او هوایي چلند وزارت او کام ایر هوایي شرکت تر منځ د شته پورونو تفاوت د تعادل حد ته ورسید، موضوع دې د اقتصادي کمېسیون سره شریکه شي؛ تر هغه وخته، د کام ایر شرکت مکلف دی چې د ترانسپورت او هوایي چلند وزارت عوایدي حساب ته له خپلو مجموعي پورونو څخه هره میاشت د پخوا په شان ۵ لکه امریکایي ډالر پرې کړي. | د ترانسپورت او هوائي چلند، مالیې وزارتونه، د کام ایر شرکت او نورې اړوندې اداري | د اړتیا مطابق |

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزرا اقتصادي معاونیت
Economic Commission Secretariat
Islamic Emirate of Afghanistan